# افغاني میرمنو ته د سپورت چانسونه

**Author:** Hafizullah Gardesh

د بدني روزنې لیوالې میرمنې د نجونو د سپورت په وړاندې د مالي ستونزو او محافظه کاره ټولنه یو خنډ بولي، چې په سپورت کې ددوی ګډون ناشونی کوي.

د لیلما عزیزي عکس هغه مهال د نړۍ په ګوټ ګوټ کې وشګوول شو، چې کله یې په پاریس کې د نړیوالي اتلتیك د اتلولی د وروستیو لوبو په پیلیدو کیګ د سلو مترو لنډې ځغاستې د مسابقې لپاره راځرګنده شوه.

دا افغاني میرمن چې د افغانستان د سپورت د ډګر د ورځې مشهوره لوبغاړې شوه، سره له دې چې په ځغاسته کې وروستۍ شوې وه، خو په هیواد کې هم له سوړ هرکلي سره مخامخ او له دې امله خواشینې وه.

نوموړې آی ډبلیو پي آر ته وویل: "د فرانسې په هیواد کې زما ډېر درناوی او ستاینه وشوه، چې هیڅکله به یې هیره نه کړم، خو کله چې خپل هیواد ته راستنه شوم، زموږ د المپیك کمیټې استازي آن زموږ هرکلي ته رانه غلل. نه د پیسو او نه د لفظي هڅونې له لارې وهڅول شوم. دا ډېره د خپګان خبره ده."

په هر ډول په افغانستان کې د سپورتي آسانتیاوو نشتوالي له یوې خوا او ټولنیز محافظه کاره چلند له بلې خوا د میرمنو لپاره د سپورت فرصتونه محدود کړي دي. ښایې عظیمه د طالبانو د ظالم رژیم له نسکوریدو راوروسته ددغه لاملونو له امله ډېره حیرانه شوې هم نه وي.

د افغانستان د ملي المپیك د کمیټې د ښځینه سپورت د چارو مسوول شمس الحیات علم وایي، کله چې په دې وروستیو وختونو کې په غازي لوبغالي کې د نجونو د ځغاستې مسابقیګ پیل شوې، د نندارچیانو په وړاندې چې ټولې یې ښځینه وې، د مسابقې یو زیات شمیر ګډون کوونکو د سپورت د بوټونو د نشتوالي له امله پښې یبله ځغستل.

ددغه کمیټې د بهرنیو اړیکو مسوول ګل محمد وایي، چې د عظیمې په بریاوو افتخار کوي، خومالي وجوه او پیسې موجودي نه وي، ځکه د اتلتیك د نغدي هڅونې لپاره پیسې د المپیك په واك کې نه وې.

د اتلتیك لیوالي میرمنې په مخ کې ډېرې ستونزې لري. هغوی په ټولنې کې یو شمیر وګړو ته د منښت وړ نه دي، ځکه په عمومي توګه په سپورت کې د ښځینه وو له ونډې اخیستلو سره موافق نه دي، که څه هم چې دا کار د ښځینه وو ترینرانو تر نظر لاندې د ځلورو دیوالونو تر منځ سرته رسیږي.

ځینې خلك په سپورت کې د ښځو له سیالیو سره مخالفت ښیي. د کابل ښار د لویدیځ د سرای غزني یو اوسیدونکی پنځوس کلن محرم علي وایي: "ښځینه لوبغاړې باید د هغوی د کورنیو او ولس سرخوری راونه پاروي. ښځې د کور لپاره پیدا شوي او باید د کور کارونه سرته ورسوي."

ښځې له داسې ستونزو سره، لکه چې اوس دي، پخوا لاس او ګریوان نه وې. د 1979 کال راوروسته د کمونیست رژیم پر مهال میرمنې په والیبال، باسکیټبال، اتلتیك او جمناستیك کې ډېرې د ستاینې وړ وې او زیاتره به یې د نارینه او ښځینه وو په وړاندې مسابقې کولې.

د کمونیست ځای ناستې رژیم دې کار ته د پای ټکی کیښود او یوازې په څو محدودو برخو کې میرمنو کولای شول سپورتي لوبې وکړي، خو هغه هم په عام محضر کې نه وې.

نارینه هم له دې اغیزو بې برخې نه وو. د طالبانو سخت دریځه رژیم په دې ټینګار کاوه، چې نارینه باید ږیرې پریږدي. د سپورتي لنډو جامو په اغوستلو یې محدودیت لګولی و او په دې توګه یې په نړیواله کچه د استعدادونو د ودې مخه نیولې وه.

افغانستان دوه کاله دمخه هغه مهال د المپیك نړیوالې کمیټې او د اماتور اتلتیك نړیوال فدراسیون غړیتوب تر لاسه کړ، چې طالبان راوپرځیدل.

عظیمي وایي، چې هغه ځکه په وروستیو شیبو کې پاریس ته د تګ لپاره و ټاکل شوه، چې د لوبو تنظیموونکو په لوبو کې د ښځینه وو لوبغاړو په ګډون ټینګار وکړ.

عظیمي د انګلیسي ژبې او ادبیاتو محصله د ښووني او روزنې پوهنتون د والیبال په ډله کې هغه مهال وټاکل شوه، چې ددغه موسسې په جمنازیوم کې د میرمنو سپورتې لوبو ته یو ساعت وخت ورکړ شو.

پاریس ته له تګ دمخه هغې د ځغاستې په مسابقو کې د ځغاستې د پیل خنډونه نه وو لیدلي او ورته ویل شوي هم نه وو، چې د کوم واټن ځغاستې لپاره به مسابقه کوي.

د لوړې کچې په دې مسابقو کې په ناڅاپي ورګډیدو او د ځانګړو سپورتي جامو سره د نابلدتیا له امله هغه له خپلو سیالو ملګرو څخه د نړیوال ټینګ شوي 37.18 ثانیو ریکارډ څخه وروسته پاتې شوه. خو د دود د ماتولو له امله په دې لوبو کې د ګډون لپاره هغه دنړۍ ګرچاپیره د ستاینې وړ وګرځیده.

عظیمي په فرانسې کې د خپل وخت په هکله وویل: "کله چې به ښار ته تلم، خلك به راڅخه ګرچاپیره راتاویدل، زما لاسلیك به یې غوښته او د ګډ عکس د اخیستلو هیله به یې راڅخه کوله."

هغې د نړې له ګرچاپېر څخه زیات تجربه لرونکې سپورتي ستورو سره خبرې اترې وکړې او د بیلابیلو سپورتي وسایلو او سپورتي زمینو په هکله یې معلومات تر لاسه کړل.

کور ته په بیرته راستنیدو او له آسمان څخه ځمکې ته په راکوزیدو هغه دهغو ستونزو په هکله زیاته اندیښمنه ښکاریده، چې افغاني میرمنې په سپورت کې د ونډې اخیستلو پر مهال ورسره مخامخ کیږي.

هغه وایې: "زیاتره کورنی متعصبې دي اوخپلو لوڼو ته په سپورت کي د ګډون اجازه نه ورکوي. دا ټول ټولنیز زیره نورمونه او اقتصادي ستونزي دي. بله ستونزه د ښځینه ټرینرانو نشتوالی دی، چې د نجونو په روزلو کې برخه واخلي."

په عین وخت کې د سپورت زیاتره لیواله میرمنې له خلکو پټ او له مناسبو سپورتي وسایلو پرته پخپله سپورتي تمرین کوي.

راضیه یوې افغاني میرمنې هغه مهال سپورت ته لاره وموندہ، چې کورنی یې ایران ته کډه وکړه او هلته دولس کاله میشت شول. هغه اوس د نجونو د سپورت ټرینره ده. هغه وایې چې د سپورت د مسوولینو د ژمنې نشتوالی او همدا شان محافظه کاره چاپ چلند دزیاترو نورو نجونو مخه نیولې ده، چې په سپورتي لوبو کې برخه واخلي. نوموړې وایې: "ځینې پلرونه او ورونه فکر کوي، چې د هغوی لوڼې او میرمنې په سپورت کې د ګډون له امله کور ته شرم راوړي."

چاروا‌کي وایې چې هغوی تر وسې وسې هڅه کوي، چې له دې چال چلند او له مالي تنګسې سره مقابله وکړي. دالمپیك په کمیټې کې مدیر ګل محمد آی ډبلیو پي آر ته وویل، چې یو شمیر نجونې د مسابقو لپاره بهر ته استول شوي دي، چې له هغې ډلې څخه نجلا یادولای شو، چې یوه معیوبه میرمن ده او د ایرلند هیوادته په مسابقو کې د ګډون لپاره استول شوي ده.

محمد رحمتي د پوهنې وزارت د بدني روزنې د ریاست مرستیال آی ډبلیو پي آر ته وویل، چې په سپورت کې د نجونو د برخې اخیستلو لپاره په فعاله توګه کار روان دی او ټاکلي پلانونه تر لاس لاندې دي، چې نجونې په سپورت کې د ګډون لپاره وهڅول شي. په دې هکله مو پخوا لس تنه نجونې ایران ته لیرلي، چې د ټرینرانو په توګه به وروزل شي.

**Location:** Iraqi Kurdistan
Iran
Afghanistan

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/fgny-myrmnw-th-d-spwrt-chnswnh